ځوانان باید پر څه پوه شي

# جنسي قاچاق او استحصال

## د ماشومانو جنسي قاچاق څه شی دی؟



د ماشومانو یو ناوړه عمل چې پکې تر 18 کلونو کم عمره ځوان د پیسو یا بل هر څه په بدل کې جنسي عمل کوي؛ که په زور وي یا په خوښه.

## جنسي قاچاق چېرته کیږي؟

قاچاق **هر چېرته** کېدای شي.



د انسانانو قاچاقبران د ځوانانو موندلو لپاره له ټولنیزو رسنیو او انټرنټ څخه ډېره ګټه اخلي.

قاچاق په هوټلونو، کارځایونو یا کورونو کې کېدای شي. دا په انټرنټ او ټیکنالوژۍ کې هم کېدای شي، لکه انلاین د جنسي عکسونو او ویډیوګانو اخیستل او لیږل.

ډېر خلک او ځایونه خوندي دي، خو د انسانانو قاچاقبران تل خطرناک نه ښکاري. د ځان ساتنې لپاره نښو ته پام کوئ او چې کله اړتیا وي، مرسته وغواړئ.

## جنسي قاچاقبران او اخیستونکي څوک دي؟

د انسانانو قاچاقبران او اخیستونکي کېدای شي هر جنس، هېواد یا عمر لرونکي وي. په دوی کې دا شامل کیدی شي:



- ګومارونکي
- نااشنا کسان
- عشقي ملګري
- د کورنۍ غړي
- ملګري یا همځولي

# د جنسي قاچاق یا د خطر 10 نښې چې کېدای شي پېښېږي

**که څوک...**

- ستاسو د بدن هغه برخه لمس کوي چې ستاسو نه وي خوښ.
- وايي چې پوروړی یې او د قرض په بدل کې باید د هغوی هر څه ومنې.
- وايي چې مکتب ته مه ځه یا ناوخته او په بې وخته وختونو کې بهر اوسه.
- ستا د بربنډو عکسونو یا ویډیوګانو غوښتنه کوي یا یې اخلي
- تا یا کورنۍ ته دې د زیان رسولو ګواښونه ورکوي، یا وايي که خبره یې ونه منې نو پولیسو یا د کډوالو اداري ته دې سپاري.
- د جنسي عمل په بدل کې درته د ډالۍ، پیسو، نشه‌یي توکو، خوراک یا ځای ورکولو وړاندیز درکوي.
- په دې کنټرول ساتي چې چېرته ځې او له چا سره خبرې کوې؛ تا له خپلو ملګرو او کورنۍ څخه جلا ساتي
- ستا پاسپورټ، اسناد، پیسې یا ټلیفون له ځان سره ساتي.
- درته وايي چې د خپل عمر په اړه دروغ ووایه
- درته وايي چې خپلې ګډې خبرې یا پلانونه پټ وساته

## تاسو څنګه مرسته ترلاسه کولی شئ که تاسو یا مو کوم اشنا کس د جنسي قاچاق په حالت کې وي؟



**تاسو حقونه لرئ**، او که دا حقونه درڅخه واخیستل شي، نو دا هغه کارونه دي چې تاسو یې کولی شئ.

- **د باور مشر** سره خبرې وکړه.
- د بېړني حالت پر وخت یا که څوک درسره بد خوی یا زیاتی کوي، ځايي **پولیسو یا 911** ته زنګ ووهئ.
- د **انساني قاچاق د مخنیوي ملي شمېره (National Human Trafficking Hotline)** ته زنګ ووهئ. دوی 24/7 پرانیستي وي.

**ټلیفون**: 1-888-373-7888 | **متني پیغام**: 233733

**ژوندۍ چټ**: https://humantraffickinghotline.org/en/chat



The production of this material was supported by Grant #90RB0054 from the Administration for Children and Families (ACF). Its contents are solely the responsibility of the U.S. Committee for Refugees and Immigrants (USCRI) and do not necessarily represent the official views of ACF.